رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغه سړي لعنت ويلى چې د ښځو جامې اغوندي او پر هغې ښځې چې د نارينه وو جامې اغوندي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى هغه ويلي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغه سړي لعنت ويلى چې د ښځو جامې اغوندي او پر هغې ښځې چې د نارينه وو جامې اغوندي.

[صحيح دى] [النسائي په الكبرى كې او ابن ماجه په همدې معنا او احمد هم روايت كړى دى]

نبي صلى الله عليه وسلم هغه سړي ته د الله له رحمت څخه په لرې كېدو او شړلو ښېرا كړې ده چې د ښځو ځانګړي لباسونه اغوندي؛ برابره خبره ده كه دا په بڼه، رنګ، طرز، د اغوستلو په طريقې، سينګار يا نورو شيانو كې وي. يا د يوې ښځې لپاره هم د نارينه وو د جامو تقليد كول، چې دا هم د كبيره ګناهونو څخه ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8905